مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هلمند آخړ ۲۰۱۹/۰۸/۱۵

# ابدال غلجي څوک ؤ؟

د خوارزمشاهانو په لاس د غوریانو د ټولواکۍ له راپرځېدو وروسته، زمونږ د هېواد له شمال ختیځ څخه د مغلو یو توپان راپورته شو او زمونږ هېواد یې له لویې تباهۍ او زیان سره مخ کړ.
د آل کرت کورنۍ د مغلو هم مهاله وه او زمونږ د هېواد په ځینو سیمو کې یې واکمني کوله چې د غوریانو له پښته وو او له مغلو سره یې ښې اړیکې لرلې.د دوی لړۍ (۶۰۰-۷۸۳هـ) پورې وغځېده چې په پای کې د تیمور ګورګان (ګوډ تیمور) له خوا له منځه لاړه او تیمور د هرات ښار وسوځاوه.
په دې مهال (اتمه هجري پېړۍ) کې مونږ ته یواځې دا مالومه ده چې په هرات او شاوخوا سیمو کې د کرت اولادې واکمني درلوده او ځینې نورې سیمه ایزې واکمنۍ هم وې چې د دوی له ډلې څخه یوه، په غور کې د غلجیو واکمني وه.
ګوډ تیمور په خپل کتاب «منم تیمور جهانګشا» کې د غور د غلجیو سره د جګړې په اړه د (ابدال کلزائی کی بود و در کجا سلطنت می کرد؟) تر سرلیک لاندې په زړه پورې مالومات لیکلي دي.
د ګوډ تیمور په کتاب کې (غلجیان) د (کلزایانو) په نوم یاد شوي، څکه چې دا کتاب له پارسی څخه فرانسوی ته فرانسوي څېړونکي (مارسل بریون) ژباړلی او شرح یې ورکړې او له هغې وروسته پارسی ته ژباړل شوی دی چې په ژباړو کې یې غلجایي (کلزائي) بللي دي.
کیسه داسې پیلېږي چې تیمور له خپل پوځ سره په (بیرجند) کې خپلې کشفي ډلې ته منتظر و ترڅو هغوی له دوی سره یو ځای شي خو دوی ځنډېږي او څه مالومات یې نه کیږي. د تیمور دویمه ډله خبر ورکوي چې لومړنی کشفي ډله لوټ شوې ده او هرڅه چې ورسره وو ترې لوټ شوي دي.
تیمور د څېړنې له پاره د بیرجند حاکم راوغواړي ترڅو له هغه څخه پوښتنه وکړي چې کشفي ډله یې چا لوټ کړې ده او یو کس یې هم ژوندی نه دی ورته پرې ایښی؟
د بیرجند حاکم د پیښې ځای ته ځي تر څو ښکاره شي چې سرتیري چا وژلي دي؟
تیمور زیاتوي چې د بیرجند حاکم بېرته راغی او ورته ویې ویل چې ستا سرتیري د (کلزایانو) د کومې ډلې له خوا وژل شوي دي. تیمور پوښتنه وکړه: کلزایان څوک دي؟
حاکم ځواب ورکړ: دوی د غور په هېواد کې ژوند کوي او د غور هېواد یو لوی هېواد دی چې له هرات څخه تر کابله غځېدلی دی.
تیمور وویل: د دې له پاره چې غور ته لاړ شم، کومه لاره غوره کړم؟
حاکم ځواب ورکړ: له دې ځای څخه مخامخ د سکندر(کندهار) ښار ته لاړ شه او کله چې کندهار ته ورسېدې نو د شمال لاره ونیسه، نو غور ته به ننوزې، اې امیره! ته باید داسې ونه کړې څکه غور ته تګ ډېر خطرناک دی څکه کلزایان هلته واکمني کوي او دوی ډېر بې باکه او خطرناک خلک دي.
تیمور وپوښتل: ته څنګه پوه شوې چې زما سرتیري کلزایانو وژلي؟
حاکم وویل: څکه چې ما د پېښې په ځای کې یو تلوار [لویه توره] پیدا کړ او تلوار د غلجیو وسله ده چې په هغې سره جګړېږي.
(د تلوار په اړه زما محترم پلار محمد انور آخړ وایي چې د پیر روښان په حالنامه کې راغلي دي چې د شیتکو پښتون قوم او روښانیانو ترمنځ یوه جګړه وشوه، په جګړه کې د شیتکو پښتنو داسې لویې تورې درلودلې چې د روښانیانو هر جګړن به یې چې په کوم غړي باندې ووهلو هغه غړی به یې په مکمله توګه ترې غوڅ کړ، د پیر وروښان د حالنامې لیکوال زیاتوي چې زموږ یو پر آس سپور ملګری یې په ملا باندې په توره وهلی ؤ چې دوې پښې یې د آس پر زین باندې پاتې وې.)
تیمور له دې وروسته د غور په لور حرکت کوي ، کندهار ته رسیږي او وایي چې ما په کندهار کې د پټان قبیلې خلک ولیدل چې اوږدې ونې یې درلودې، ږېر ویښتان یې وو او د کارغانو په شان سترګې یې لرلې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

وروسته له هغې غور ته رسیږي او له ابدال کلزائي سره یې چې د فیروزآباد واکمن وي، جګړه پیلیږي. تیمور وایي چې د دوی تلوار دومره خطرناک ؤ چې زما سرتیري به یې دوه ځایه کړل او په منځ به یې نیم کړل.
تیمور زیاتوي: همدارنګه یوه بله وسله یې هم درلودله او نږدې وو چې زه یې پرې وژلی وای، دا وسله چنګک ؤ چې له لیرې ځایه به یې خپل دښمنان پرې ویشتل، یو ځل زه هم پرې ولګېدم خو ما ځغره اغوستې وه او تأثیر یې رابانده ونه کړ...
د تیمور اردو له ماتې سره مخ کیږي او شا تګ کوي، کله چې شا تګ وکړي نو غلجي پسې نارې کړي چې راځئ مونږ خو جګړې ته تیار یو...
تیمور په خپل منځ کې غونډه کوي او له جنرالانو سره مشوره کوي چې څنګه غلجیو ته ماتې ورکړي؟ د تیمور یو سردار (لطیف چلاق) هغه ته یوه مشوره ورکړي چې له باروتو څخه په ګټه اخیستنې سره به دوی ته ماتې ورکړو. داسې چې خاورینې کوزې به له باروتو ډکې کړو او اور به ورکړو. دوی ته به یې ورګوزارې کړو... ( دا کار د اوسنې لاسي بم لومړنۍ بڼه وه چې د تیمور پوځ کشف کړه).
لنډه دا چې تیمور د باروتو په واسطه غلجیو ته ماتې ورکوي، خو کله چې ښار(فیروزآباد) ته ورپورته شي نو د غلجیو نور سرتیري ویني چې په ښار کې ګرځي. تیمور د دوی په لیدو سره سپین بیرغ پورته کړي او په ښار کې آذان وکړي ځکه دا له غلجیو سره د سولې نښه وي.
غلجي هم د سپین بیرغ په لیدو سره تورې په تیکو کې کیږدي.
بیا تیمور لیکي:
کله چې د ښار ارګ ته راغلم، د ابدال کلزائي کورنۍ مې د ښار یوه کور ته ولیږله. [د غلجیو مشر] ابدال کلزائي یې ما ته راوست او په داسې حال کې چې سینه یې په نېزه سورۍ وه او سخت ټپي ؤ ما ته یې په قهر وویل: د څه لپاره دې راغوښتی یم؟ ما په ځواب کې وویل: غواړم تا ووینم او پوه شم چې زما ۲۵۰ تنه سپاره جنګیالي په بیرجند کې چا وژلي وو؟
ابدال غلجې په غوسه ځواب ورکوي: هغه سړی زه یم، که چېرې تاسې له باروتو کار نه وای اخیستی، اوس به ستا غوڅ شوی سر زما په وړاندې پروت وای.
ګوډ تیمور زیاتوي، ابدال غلجې وویل: په داسې حال کې چې ما ماتې خوړلې، ټپي او یرغمل یم خو له تاسو ویره نه لرم او که باور دې نه راځي، نو دوه تنه راوغواړه چې په توره مې ټوټې، ټوټې کړي، خو زه به د ځان د ژغورلو په خاطر زارۍ ونه کړم.
تیمور وایي، چې ما ابدال کلزایي ته وویل چې ته د شریعت او د جګړې د اصولو له مخې په قصاص محکوم یې، ځکه تا زما ۲۵۰ تنه وژلي دي خو زه دې په یوه شرط بښم، چې خراج راکړې او اطاعت له ځانه وښیې او هم غلجیو ته ووایې چې زما په لښکرو کې شامل شي او زه غواړم په خپلو لښکرو کې غوریان شامل کړم. که زما دغه شرط ومنې، نو نه یواځې ژوندی به پاتې شې بلکې د غور د ستر هېواد واکمن به پاتې شې او له تا وروسته به ستا زوی د دغه هېواد واکمن وي.
ابدال په ځواب کې ورته وایي: ژر شه، ما ووژنه! زه تاسې په رسمیت نه پېژنم او د غلجیو واکمن هېڅکله خراج نه شي ورکولای او نه به اطاعت وکړي، د غور هېواد یواځې فیروز آباد نه دی، بلکې په دې هېواد کې ډېر ټبرونه دي چې تا او ستا لښکر به ژوندی وخوري، زما غچ به در څخه واخلي او له هېواد څخه به دې ایستلو ته اړ کړي.
تیمور وایي چې ما تر سهاره وخت ورکړ ترڅو مثبت ځواب راکړي.
سهار مې بیا ابدال راوغوښت او ترې ومې پوښتل: د ځان په اړه دې فکر وکړ او کنه؟ د غور واکمن راته وویل، ما تېره شپه فکر کړی ؤ او درته ومې ویل، چې ما ووژنه، زه خراج ورکوونکی او اطاعت کوونکی نه شم کېدای.
تیمور، ما په پای کې ابدال کلزایي ته وویل: زه ډېر افسوس کوم چې ستا په شان د زړورو جنګیالیو مشر وژنم، که چېرې د هندوستان په نیولو کې راسره مرسته وکړې، نو نه یواځې ژوندی به پاتې شې، بلکې پر هندوستان باندې برې په صورت کې به له جنګي غنایمو څخه هم برخمن شې.
تیمور وایي چې د غور واکمن له ما سره د دوستۍ موافقه وکړه.
ابدال، تیمور ته وویل: زه تا ته سر نه ټیټوم خو د ملګرې په څېر موافقه درسره کولی شم...
تیمور له دې وروسته له ابدال غلجې سره ملګری کیږي او د هندوستان په نیولو کې ورسره مرستی شي. د ډهلي په جګړه کې د تیمور پوځ د پیلانو سره مخ شي او مقابله ډېره مشکله شي، نو غلجي د چنګکونو په واسطه پیلان ړندوي او وروسته یې له منځه وړي، کله چې ډیلی ونیول شي، تیمور غلجیو ته په غنیمت کې ونډه ورکړي.
دا ؤ د ګوډ تیمور په کتاب کې د غلجیو جریان او مونږ د افغانستان په تأریخ کې د ابدال غلجې له نوم سره اشنا کیږو چې د ده بې حده زړه ورتیا د تیمور قلم تر مونږه رارسولې ده.
د ابدال غلجې دا زړوره مبارزه د افغانستان په تأریخي کتابونو کې نه لیدل کیږي او کوم چا تر اوسه په دې زړه ور واکمن باندې څېړنه نه ده کړې او دا څېړنه هم نه ده شوې چې دا غلجي څوک وو او کله یې د فیروزکوه تخت ترلاسه کړی، یواځې د افغانستان معاصر مؤرخ ښاغلی دوکتور محمد شریف (ځدراڼ) په خپل کتاب (د مغلو او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تیموریانو پر مهال د پښتنو حالت څېړنه) کي د ابدال غلجي یادونه کړي او ډېر ښه او نوي مأخذونه يې پيدا کړي،
نوموړی کتاب زما محترم پلار راوړ او ما ته يې ووېل چي د ابدال کلزائي په اړه په دې کتاب کي مالومات شته او نوی چاپ شوی. زما پلار دا هم وايي چي په (تاریخ فرشته) لومړي ټوک کي د غور د غلجيو(خلجیو) په اړه مالومات شته چي خلجيان يې بولي چي وروسته يې په هند کي ځواکمنه واکمني درلودله.
کله چي د افغانستان په تأريخ مونږ له نوي څېړې او يوې نوي کورنی سره اشنا کيږو نو دا هم بايد له ياده ونه باسو چي د داسي نوم ورکو واکمنانو په اړه بايد څېړنه وشي. هغه مأخذونه چي ښاغلي ځدراڼ صاحب يې يادونه کړي ده عبارت دي له:

- روضات الجنات فی اوصاف مدينة هرات؛معين الدين زمچی اسفزاري
- جغرافیای ربع خراسان، شهاب الدين عبدالله حافظ ابرو
- جغرافیای حافظ ابرو
- ذیل جامع التواريخ رشیدی؛حافظ ابرو
- زيدت التواريخ،حافظ ابرو

همدارنگه د تيمور خپل کتاب (منم تيمور جهانگشا) تر ټولو مهم کتاب دی او اوس پښتو ته هم ژباړل شوی دی.
دا چي د افغانستان لويو مؤرخينو په غور کي د غلجيو د واکمنی په اړه مالومات نه دي ورکړي نو څرګنديږي چي دوی ته مأخذونه په لاس نه وو ورغلي لکه د استاد حبيبي په تأريخونو کي...
کله چي په تأريخ کي دومره زړه ور واکمن تېر شوی چي تيمور خپله هم ترې متأثر دی، نو بايد د ده په اړه څېړنه وشي او د افغانستان معاصر مؤرخين او علماء بايد کوښښ وکړي ترڅو نور مالومات هم پيدا کړي او د هغه په اړه کتابونه وليکي.ابدال غلجي او د هغه مبارزه بايد د افغانستان په تعليمي نصاب کي شامله شي او بايد نړيوالو ته معرفي شي او په نړيوالو ژبو د هغه په اړه ليکنې وشي.

درنښت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ